# د نیکو اعمالو

## دُنیائي فائدے

**25-May-2023**



هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په 25 مئي کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د نیکو اعمالو دُنیائي فائدے

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... نیکي کله هم نه زړېږي
- ... د نیکو اعمالو دُنیائي فائدے
- ... د 100 کالو عمر کښې هم جسماني طاقت سلامت
- ... نیکي د بدئ لار نیسي
- ... د زیاتو لـمونځونو ادا کولو ځانګړے سبب

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُود شريف فضيلت

حضرت سفيان ثوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د طواف په وخت يو ګس په هر قدم باندې په رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې په دُرُود لوستلو اوليدو نو د هغه نه مې پوښتنه اوکړه: اے وروره! د سُبْحٰنَ اللهِ، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ په ځائے د درودِ پاک وظيفه لولې، په دې کښې ستا څه راز دے؟ نو هغه [زما نه] پوښتنه اوکړه: **اللّٰه** پاک دې تاسو معاف کړي، تاسو څوک ئيئ؟ ما اوويل: زه سفيان ثوري يم. نو هغه اوويل: که تاسو په زماني والؤ کښې ځانګړے [مُنفَرِد] نه وے نو ما به تاسو ته دا راز نه وئيلو، زه د خپل والِدِ محترم سره د بَيتُ الله د حج په اراده را اُووَتم. په سفر کښې زما والِدِ محترم بيمار شو نو زه د خپل والِدِ محترم د علاج د پاره حصار شوم. د علاج په وخت هغوئي وفات شول او مخ ئې تور شو. دا چې مې اوليدل نو ما فوراً اولوستل:

اِنَّاۤ اِلَیْهِ رٰجِعُوْنَ ﴿۱۵۶﴾ [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: مونږه هُم د **اللّٰه** يو او مونږه هُم د هغه طرف ته ګرځيدونکي يُو.

بيا ما د هغه په مخ باندې څادر واچولو. ناڅاپه په ما خوب زوررور شو او زه اوده شوم، ما يو ګس اوليدو چې د هغه نه زيات ښائسته او ښکلے ما کله هم نه وو ليدلے. د هغه جامې ډيرې صفا سُتره وې او د هغه نه داسې خوشبوئي راتلله کومه چې ما کله هم

هم نه وه بوئې کړې. هغه قدم په قدم راتللو او زما د والدِ **محترم** خوا له ئې تشریف راوړلو او د هغه د مخ نه ئې څادر لرې کړو او خپل مبارک لاس ئې ورله په مخ باندې راښکلو. د والد صاحب مخ ناڅاپه اوځلیدو. بیا هغه ښکلے ښائسته هستي واپس روان شولو نو ما د پوښتنې د پاره [په ډیر ادب سره] د جامو مبارکو نه راونیولو چې: **اللّٰه** پاک دې په تاسو باندې رحم اوکړي، تاسو څوک ئیئ؟ د چا په سبب چې **اللّٰه** پاک زما په والدِ **محترم** باندې په دې شره کښې دا احسان اوفرمائیلو. هغوئي اُوفرمائیل: آیا تهٔ ما نه پیژنې؟ زه صاحبِ قرآن **مُحَمَّد** بن عبد الله (صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم و رضی اللّٰه عنه) یم، ستا والدِ صاحب خو ګنهګار وو خو په ما باندې به ئې ډیر زیات درودِ پاک رالیږلو. کله چې دے په دې بیمارئ کښې اخته شو نو ما ته ئې فریاد اوکړو او بے شکه څوک چې په ما باندې زیات درودِ پاک لولي زه د هغه فریاد اورم. بیا چې زه راویښ شوم نو اومې لیدل چې زما د والدِ **محترم** مخ بالکل سپین شوے وو. (1)

| | |
|---|---|
| گورِ بیکس کو شمع سے کیا کام | ہو چراغِ سرِ مزار دُرود |
| قَبر میں خوب کام آتی ہے | بیکسوں کی ہے یارِ غار درود(2) |

**وضاحت:** هغه ته د بَلې څه رڼا هیڅ ضرورت نشته د چا سره چې د درودِ پاک نُور وي. د چا سره چې قبر ته د وړلو د پاره بَل څه نه وي د هغه د پاره درودِ پاک بهترین ملګرے دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو باندې دے. (1)

---

1... تفسیر روح البیان، پارہ:22، سورۂ احزاب، زیرِ آیت:56، جلد:7، صفحہ:225 -

2...ذوقِ نعت، صفحہ:124-125 -

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** ښه نیت بنده جنّت ته رَسَوي، د بیان اوریدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې❀ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به بیان اورم ❀ عِلمِ دِین به زده کووم ❀ ټول بیان به اورم ❀ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به بااَدبه کښینم ❀ نصیحت به حاصلووم ❀ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاک نوم چې واورم نو درودِ پاک به لولم.

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د صِدّیق او د فارُوق رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا د محبت برکتونه

حضرت یحییٰ بن اسماعیل رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: زما یوه مشره خور وه، هغه بیماره شوه او د هغې ذهني توازن خراب شو. زیات و کم د لسو 10 کالو د مودې پورې هغه په دې ازمیښت کښې اخته وه، د کور په چهت باندې یوه کمره وه، هغه به هم په هغې کښې اوسیدله. یوه شپه داسې اوشول چې زه په خپله کمره کښې اوده ووم، ناڅاپه چا دروازه اوټکوله. ما ترینه پوښتنه اوکړه: څوک ئې؟ دروازه ټکوونکې یوه زنانه وه، چې کله هغې خپل نوم اوښودلو نو ما په حیرانتیا سره پوښتنه اوکړه: زما خور؟ جواب راغلے: آؤ ستا خور. دا چې مې واوریدل نو په منډه مې دروازه برسیره کړه، نن 10 کاله پس زما خور زما کمرے ته راتلله، د هغې ذهني توازن ښه شو؟ ازمیښت ئې څنګه ختم شو، په دې باره کښې زما خور ما ته اووئیل: زه اوده ووم، په خوب کښې راته چا اووئیل: **اللّٰه** پاک ستا د نیکه د نیکۍ په برکت سره ستا د پلار اسماعیل حفاظت اوفرمائیلو او ستا د والد اسماعیل په برکت ستا حفاظت فرمائي. ستا نیکه او والِد به د شیخینِ کریمین (یعني د مسلمانانو د وړومبي او دویم خلیفه) حضراتِ ابو بکر صِدّیق او عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہ

[1]...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

عنہما سره محبت کولو، ځکه حضرت صِدّيقِ اکبر او فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہما د **اللّٰه** پاک په حضور کښې ستا سفارش اوکړو، اوس که چرې ته غواړې نو زه دُعا کووم، **اللّٰه** پاک به تا له شِفا درکړي، او که غواړې صبر اوکړه نو ستا د پاره جنّت دے. ما اووئيل زه خو جنّت غواړم، باقي د **اللّٰه** پاک رحمت فراخه دے، که هغه اوغواړي نو په دُنيا کښې به شِفا او په آخِرت کښې به جنّت دواړه راکړي. په خوب کښې راغلي کَس اووئيل: ستا نيکه او والد به د شيخينِ کريمين رضی اللہ عنہما سره محبت کولو، د دې په برکت **اللّٰه** پاک تا له هم شِفا درکړه او ستا د پاره د جنّت زيرے هم دے.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! صحابهٔ کرامو سره د مينې، اهلِ بيتو سره د مينې، د صِدّيق او فاروق رضی اللہ عنہما سره د مينې خومره ښکلے شان دے...!! **اللّٰه** پاک دې زمونږه هم دا ايماني محبت نصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم .

| | |
|---|---|
| صَحابہ کا گدا ہوں اور اہلِ بیت کا خادِم | یہ سب ہے آپ ہی کی تو عنایت یَارَسُوْلَ اللہ! |
| تمہارا فَضْل ہے جو میں غلامِ غوث وخواجہ ہوں | نہ ہو کم اولیا کی دل سے اُلفت یَارَسُوْلَ اللہ! |
| اُسی احمد رضا کا واسِطہ جو میرے مرشد ہیں | عطا کر دو مجھے اپنی محبَّت یَارَسُوْلَ اللہ! |
| مدینہ میٹھا میٹھا ہے مدینہ پیارا پیارا ہے | مدینے سے مجھے بے حد ہے اُلفت یَارَسُوْلَ اللہ![2] |

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صَحابِيِ نبي! | جنَّتي جنَّتي | تولې صَحابياني هُم! | جنَّتي جنَّتي |
| څلور ياران د نبي! | جنَّتي جنَّتي | حضرتِ صديق هُم! | جنَّتي جنَّتي |
| او عُمرِ فاروق هُم! | جنَّتي جنَّتي | عُثمانِ غني! | جنَّتي جنَّتي |
| فاطِمه او علي! | جنَّتي جنَّتي | حَسَن او حُسين هُم! | جنَّتي جنَّتي |

1... مجموعِ رسائلِ ابنِ رجب، جلد:3، صفحه:101۔
2...وسائلِ بخشش، صفحه:330۔

| | | | |
|---|---|---|---|
| والِدَين د نبي! | جنَّتي جنَّتي | هره زوجه د نبي! | جنَّتي جنَّتي |
| دے ابو سُفيان هُم! | جنَّتي جنَّتي | او مُعاويه هُم! | جنَّتي جنَّتي[1] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## نيکي کله هم نه زَړيږي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** **نيک اَعمَال** په دُنيا او آخِرت کښې د نيکۍ ذريعه ده. که نيکي وړه وي او که غټه بهر حال د دې ميوه ضرور ميلاويږي. د **الله** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اَلْبِرُّ لَا يَبْلٰى وَالذَّنْبُ لَا يُنْسٰى وَالدَّيَّانُ لَا يَمُوْتُ اِعْمَلْ مَا شِئْتَ كَمَا تُدِيْنُ تُدَانُ يعنې نيکۍ کله هم نه زړيږي، ګناه کله هم نه هيرولے کيږي، بدله ورکوونکے (**الله** پاک) له به کله هم مرګ نه راځي، پس چې څه غواړۍ کوۍ ئې! چې څه ګرۍ، هغه به ريبۍ.[2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** خومره ښکلي الفاظ دي، په زړه باندې د نقش کولو لائق دي، چې کوشش اوکړو او مونږه دا مبارک الفاظ ياد کړو او په زړه کښې ئې کښينوؤ:

❁ اَلْبِرُّ لَا يَبْلٰى نيکي کله هم نه زړيږي ❁ وَالذَّنْبُ لَا يُنْسٰى ګناه کله هم نه هيرولے کيږي ❁ وَالدَّيَّانُ لَا يَمُوْتُ بدله ورکوونکے (**الله** پاک) له به کله هم مرګ نه راځي ❁ فَافْعَلْ مَا شِئْتَ كَمَا تُدِيْنُ تُدَانُ څه چې غواړۍ کوۍ ئې! چې څه ګرۍ، هغه به ريبۍ.

## د نيکو اَعمَالو دُنيائي فائدے

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** واقعي حقيقت دے، نيکي کله هم نه زړيږي. د نيکو اَعمَالو د آخِرت اَجر او ثواب دے، د هغې خومره ښکلے شان دے، **الله** پاک د نيکو اَعمَالو

---

1...وسائلِ فردوس، صفحه: 53-
2...مصنف عبدالرزاق، کتاب الجامع، باب الاغتياب والشتم، جلد: 10، صفحه: 189، حديث: 20430-

کوونڪو مسلمانانو د پاره داسې نعمتونه تیار کړي دي، کوم چې نه یوې سترګې لیدلي دي، نه کوم غوږ اوریدلي دي، نه په یو زړه کښې د هغې ګُمان تیر شوے دے، **اللہ** پاک فرمائي:

وَلَاَجۡرُ الۡاٰخِرَةِ اَكۡبَرُ [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او بے شکه د آخِرت ثواب ډیر لوئ دے.

(پارہ:14، سورۂ نحل:41)

د دې سره سره په دُنیا کښې هم د نیکو اعمالو ښې نتیجې را اُوځي، په قرآن او حدیث کښې د نیکو اَعمَالو ډیرې زیاتې دنیائي فائدے هم بیان شوې دي:

## د نیکو اعمالو دُنیائي فائده: د سکون نه ډک، ښه ژوند

په څوارلسمه سیپاره، سورۂ نحل، آیت: 30 کښې ارشاد کیږي:

لِلَّذِيۡنَ اَحۡسَنُوۡا فِىۡ هٰذِهِ الدُّنۡيَا حَسَنَةٌ ‌ؕ وَلَدَارُ الۡاٰخِرَةِ خَيۡرٌ ‌ؕ وَلَنِعۡمَ دَارُ الۡمُتَّقِيۡنَ ۙ‏ ﴿۳۰﴾ (پارہ:14، سورۂ نحل:30)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالعرفان: کومو خلقو چې په دې دنیا کښې نیکي اوکړه، د هغوئي د پاره نیکي ده او بے شکه د آخِرت کور د تولو نه بهتر دے.

په تفسیر صراطُ الجنان کښې دي: (د دې آیت یوه معنیٰ دا ده چې) کومو خلقو ایمان راوړو او ښه اعمال ئې اوکړل، هغوئي ته به په دُنیا کښې هم د هغې ښه اجر میلاویږي. (1)

په یو بَل ځائے کښې **اللہ** پاک ارشاد فرمائي:

مَنۡ عَمِلَ صَالِحًا مِّنۡ ذَكَرٍ اَوۡ اُنۡثٰى وَهُوَ مُؤۡمِنٌ [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: کوم نارینه یا زنانه چې نیک عمل اوکړي

1... تفسیر صراط الجنان، پارہ:14، سورۂ نحل، زیرِ آیت:30، جلد:5، صفحہ:306۔

فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً ۚ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۹۷﴾ (پارہ:14، سورۂ نحل:97)

او هغه مسلمان وي نو مونږ به ضرور هغوئي له پاک ژوند ورکوو.

معلومه شوه: چې د **نیکو اَعمَالو** په برکت سره مؤمِن بنده ته په دُنیا کښې حلال رزق، نیک، پاک، د سکون نه ډک، د خوشحالۍ او آرام او راحت والا پاک ژوند عطا کولے شي.

## د نیکو اعمالو 3 فائدے

حضرت حَسَن بن صالِح رحمۃُاللہِ علیہ فرمائي: نیک عمل: (1): په بدن کښې طاقت (2): په زړه کښې نُور او (3): په سترګو کښې رڼا پیدا کوي او بَد عمل: (1): په بدن کښې کمزوري او (2): په زړه کښې تیارهٔ راولي او (3): سترګې ړندوِي. (1)

## د 100 کالو عمر کښې هم جسماني طاقت سلامت

یو ډیر لوئ عالِم تیر شوے دے، علّامه اَبُو طَیِّب طَبري رحمۃُاللہِ علیہ ، د هغوئي عمر د 100 کالو نه هم زیات وو، په دې عمر کښې هم هغوئي په ذهني او جسماني لحاظ سره صحت مند او طاقتور وو، د هغوئي نه چا د صحت د راز پوښتنه اوکړه نو اوئې فرمائیل: ما په ځوانئ کښې خپل جسماني صلاحیتونه د ګناه نه محفوظه ساتلي وو (یعنې ځان مې په نیکو اعمالو کښې مشغوله ساتلے وو)، د هغې په برکت سره اوس چې کله زه بوډا شوے یم نو **اللّٰه** پاک زما جسماني صلاحیتونه زما د پاره باقي ساتلي دي. (2)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا د نیکو اعمالو دنیائي فائده ده، څوک چې خپل

---

1...حِلْیَۃُ الْاَوْلِیاء، جلد:7، صفحہ:385، رقم:10941۔
2...مجموع رسائل ابن رجب، جلد:3، صفحہ:100۔

ځان د ګناهونو نه ساتي او نيک اعمال کوي، **اللّٰه** پاک هغه ته د صحت او سلامتيا والا، د سکون نه ډک او ښه ژوند عطا کوي.

## د نيکو اعمالو دنيائي فائده: په مشکلاتو کښې آساني

د **نيکو اعمالو** يوه دنيائي فائده دا هم ده چې د نيکو اعمالو په برکت سره په مشکلاتو کښې آساني نصيب کيږي. **اللّٰه** پاک په قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

| | | |
|---|---|---|
| وَ مَنْ یَّتَّقِ اللّٰهَ یَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ یُسْرًا ﴿۴﴾ (پاره:28، سورۀ طلاق:4) | | [مَفهُوم] ترجمۀ کنزُالاِيمان : او څوک چې د اللّٰه نه أويَريږي اللّٰه به د هغه په کار کښې آساني اوفرمائي. |

په يو بَل ځائے کښې **اللّٰه** پاک ارشاد فرمائي:

| | | |
|---|---|---|
| وَ مَنْ یَّتَّقِ اللّٰهَ یَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ﴿۲﴾ (پاره:28، سورۀ طلاق:2) | | [مَفهُوم] ترجمۀ کنزُالاِيمان : او څوک چې د اللّٰه نه أويَريږي **اللّٰه** به د هغه د پاره د خلاصي لار راوباسي. |

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا د نيکو اعمالو اهمه او بنيادي فائده ده چې څوک نيک اعمال کوي، **اللّٰه** پاک په سخت وخت کښې د هغه د پاره آسانئ پيدا کوي او په داسې وخت کښې چې کله انسان ته د خلاصي څه لار نه ښکاري، **اللّٰه** پاک هغه وخت د بنده د پاره لارې راوباسي.

## نيکي د بدئ لار نيسي

د **اللّٰه** پاک خوږ او آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: صَنَائِعُ الْمَعْرُوْفِ

تَقِيَ مَصَارِعَ السُّوْءِ يعنې نيک اعمال د بدو نه بچ کول کوي. (1)

## د اوښې صدقه کولو برکت

د نن نه تقريباً د يو نيم، پاؤ کم 2 سوه کاله مخکښينۍ واقعه ده، د عربو د يو کلي اوسيدونکے يو کس وو، د هغه نوم اِبنِ جُدعان وو، د سپرلي په موسم کښې چې کله يو ځل هغه د خپلو اوښانو د ساتلو ځائے ته اورسيدو نو اوئې ليدل چې د هغه اوښان ډير څاربه او صحت مند شوي وو. يوه اوښه خو ډيره صحت منده وه، هغې پيۍ هم زيات کول، دا ئې چې اوليدل نو د هغه سَر د شُکر نه ښکته شو. بيا ناڅاپه هغه ته د ځلورمې سيپارې، د سُورۀ اٰلِ عمران دا آيت مبارک راياد شو:

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ؕ۬ وَ مَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَیْءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِیْمٌ ﴿۹۲﴾ (پارہ:4، سورۂ آلِ عمران:92)

[مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالاِیمان: تاسو به هيڅ کله هم نيکۍ ته اونه رسئ تر څو پورې چې د الله په لار کښې خپل خوږ څيز اونه لګوئ.

هغه فيصله اوکړه چې دا اوښه او د دې بچے به د الله پاک په لاره کښې صدقه کووم. په خپله فيصله باندې د عمل کولو د پاره هغه اوښه او بچے د ځان سره روان کړل او د خپل يو ګاؤنډي کور ته اورسيدو، هغه ګاؤنډي ئې ډير غريب وو، د هغه 7 لوڼه وې، اِبنِ جُدعان دروازه اوټکوله، ګاؤنډي ئې بهر را اووتلو، اِبنِ جُدعان د اوښې واګې د ګاؤنډي په لاس کښې ورکړې او اوئې وئيل: وروره! دا واخله...!! دا زما له طرفه تحفه ده. د ګاؤنډي مخ د خوشحالۍ نه روښانه شو، يقيناً هغه به ورته په زړه کښې ډيرې

1... معجمِ اوسط، جلد:4، صفحہ:311، حدیث:6086۔

دُعاګانې هم کړې وې. اِبنِ جُدعان اوښه صدقه کړه او کور ته واپس راغلو، ورځې تیریدلې، د سپرلي موسم ختم شو، د خزان موسم راغلے، د وَنو پاڼې اورژیدلې، ګرمي په ډیریدو شوه، په صحرا کښې د اوبو کمے راغلے، خلق د یو یو څاڅکي محتاج شول، په دې حالت کښې یوه ورځ اِبنِ جُدعان خپل ځامن د ځان سره کړل او د اوبو په لټون کښې اووتلو، چرته ډیر لرې په زمکه کښې هغه یو غار اولیدو، اِبنِ جُدعان اندازه اولګوله چې خامخا به دلته اوبه وي، هغه خپل ځامن بهر اودرول او پخپله غار ته کوز شو، طمع خو ئې وه چې اوبه به میلاویږي خو هلته اوبه نه وې بلکه ډَنډه وه، اِبنِ جُدعان په ډَنډه کښې اوښتو، ځامن ئې بهر ولاړ وو او انتظار ئې کولو، چې ښه ډیر وخت تیر شو، اِبنِ جُدعان واپس رانغلے نو ځامنو ئې دا اوګڼله چې د هغوئي پلار اوس ژوندے نه دے پاتې، هغه دننه په غار کښې چرته انختے دے او مړ شوے دے.

ځامن ئې کور ته واپس راغلل، د پلار د جائیداد په تقسیمولو ئې لاس پورې کړو، په دغه وخت کښې دوئي ته وریاد شو چې اِبنِ جُدعان یوه اوښه ګاؤنډي له په تحفه کښې ورکړې وه، لالچیان ځامن د اوښې واپس اخستو د پاره د ګاؤنډي کور ته ورغلل، کله چې ګاؤنډي ټوله واقعه واوریدله نو اوښه ئې هغوئي ته حواله کړه او پخپله د خپل مُحسن په لټون کښې اووتلو، کله چې هغه ګاؤنډي هغه غار ته اورسیدو، چرته چې اِبنِ جُدعان ورَک شوے وو نو هغه د خپل مُحسِن د مرستې د پاره غار ته دننه ورکوز شو، دننه ډیره زیاته تیارهٔ وه، ډَنډه هم وه، بیا هم هغه مخ په وړاندې روان وو، ناڅاپه هغه ته د چا د ساګانو اِحساس اوشو، هغه چې په تیاره کښې لاس اُووهل نو هغه څه انساني بدن وو، هغه اِبنِ جُدعان له آواز ورکړو، اِبنِ جُدعان لا تر اوسه ژوندے وو، ګاؤنډي د خپل مُحسن مدد اوکړو او هغه ئې د غار نه راویستو او کور ته ئې راوستو، کور ته چې راغلے نو هغه ترینه پوښتنه اوکړه: اے اِبنِ جُدعان! تهٔ هلته په غار کښې تقریباً یوه هفته بند

وې، دومره ورځې بغیر د خوراک ښناک نه ته ژوندے څنګه پاتې شوې؟ اِبنِ جُدعان اووئیل: تیارۀ ډېره زیاته وه، ما ته هیڅ هم نه ښکاریدل، البته هره ورځ به زما خُلې ته د پئیو یو ګټورے راتلو، ما به هغه څښلو، د هغې په وجه ژوندے پاتې شوم خو د تیرو دوه ورځو نه د پئیو کټورے راتلل بند شوي وو. ګاؤنډې اووئیل: زه پوهه شوم، تا ما له اوښه په تحفه کښې راکړې وه، دوه ورځې مخکښې ستا ځامنو هغه اوښه زما نه واخسته او واپس ئې بوتلله. ستا د راکړے شوې اوښې پئ به مونږه غریبانانو دلته څښل او د دې بدله به تا ته هلته په غار کښې میلاویدله.

مجھے ایسے عمل کی دے توفیق | کہ ہو راضی تری رضا یاربّ! (1)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا ده د **نیکو اعمالو** دُنیائي فائده، مونږه چې کوم نیک عمل هم کوو، هغه چرې هم نه هیرولے کیږي، نیکي په بَد وخت کښې ضرور په کار راځي. ځکه مونږ ته نیک اَعمَال کول پکار دي.

## د آل، اَولاد حفاظت

د **نیکو اعمالو** نورې هُم ډیرې دُنیائي فائدے دي، مثلاً ❁ د نیکو اعمالو په برکت سره د دښمنانو نه حفاظت کیږي ❁ د نیکو اعمالو په برکت سره د زمکې او آسمان برکتونه نصیب کیږي ❁ د نیکو اعمالو په برکت سره د غریبئ او محتاجئ نه خلاصے موندلے کیږي ❁ د نیکو اعمالو په برکت سره عمر ډیریږي ❁ د نیکو اعمالو په برکت سره د ارادے قُوّت مضبوطیږي ❁ د نیکو اعمالو په برکت سره عزت زیاتیږي ❁ **الله** پاک د مخلوق په زړه کښې د نیک بنده مینه اچوي ❁ او یوه ډیره اهمه فائده دا چې د **نیکو اعمالو** په برکت سره صرف نیکئ د کوونکي تر حده پورې محدود نه پاتې کیږي

1...ذوقِ نعت، صفحہ:85-

بلکه د دې په برکت سره د هغه د آل، اَولاد هم د دې برکتونه نصيب کيږي.

## د يتيمانانو د خزانے حفاظت

په قرآنِ کريم کښې د حضرت موسیٰ او حضرت خضر عَلَيهِمَا السَّلَام واقعه موجود ده، حضرت موسیٰ او حضرت خضر عَلَيهِمَا السَّلَام په يو کلي تيريدل، حضرت خضر عَلَيهِ السَّلَام يو دِيوال اوليدو کوم چې راپريوتو ته نزدې وو، هغوئي هغه دِيوال صحيح کړو. حضرت موسیٰ عَلَيهِ السَّلَام چې کله د دې د حکمت په باره کښې پوښتنه اوکړه نو اوئې فرمائيل:

وَ اَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلٰمَيْنِ يَتِيْمَيْنِ فِي الْمَدِيْنَةِ وَ كَانَ تَحْتَهٗ كَنْزٌ لَّهُمَا وَ كَانَ اَبُوْهُمَا صَالِحًا ۚ فَاَرَادَ رَبُّكَ اَنْ يَّبْلُغَاۤ اَشُدَّهُمَا وَ يَسْتَخْرِجَا كَنْزَهُمَا ۖ رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ۚ (پارہ:16، سورۂ کہف:82)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: پاتې شو هغه ديوال هغه د ښار د دوؤ يتيمانو هلکانو وو او د هغې نه لاندې د هغوئي خزانه وه او د هغوئي پلار نيک انسان وو نو ستاسو رَبّ اوغوښتل چې هغه دواړه خپلې ځوانئ ته اورسي او خپله خزانه را اوباسي ستاسو د رَبّ په رحمت سره.

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اسلامي ورونو! اندازه اولګوئ! ثومره کرم دے، يو دِيوال دے، د هغې نه لاندې د يتيمانو ماشومانو خزانه خښه ده، **الله** پاک خپل نبي حضرت خضر عَلَيهِ السَّلَام را اوليږو چې دا ديوال صحيح کړي د پاره د دې چې د ماشومانو خزانے ته نقصان اونه رسي، په هغوئي باندې دا کرم ولې اوشو؟ ځکه چې

| | |
|---|---|
| وَ كَانَ اَبُوْهُمَا صَالِحًا ۚ (پارہ:16، سورۂ کہف:82) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: د هغوئي پلار نيک انسان وو. |

علمائے کرام فرمائي: د هغه نيک کس نوم **کاشِح** وو او دا د هغه يتيمانانو

ماشومانو په اتمه يا لسمه پيړۍ کښې پلار [يعنې د نيکونو نيکه] وو. (1)

سُبْحٰنَ الله! دا دے د نيکو اعمالو برکت...!! خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صلّى الله عليه وآله وسلّم فرمائي: د انسان د نيک کيدو له وجهې الله پاک د هغه د اَولاد در اَولاد بهترې فرمائي او د هغه د نسل بلکه د هغه د ګاؤنډيانو هم رعايت فرمائي. (2)

## د زياتو لمونځونو ادا کولو ځانګړے سبب

حضرت سعيد بن مُسَيّب رحمة الله عليه به خپل ځوئ ته فرمائيل: ځويه! زه ستا په وجه زيات لمونځونه کووم د پاره د دې چې الله پاک د دې لمونځونو په برکت ستا حفاظت اوفرمائي. (3)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ✿ مونږ هم د خپل اولاد حفاظت کوو ✿ د هغوئي د پاره فِکر مند اوسو ✿ ماشوم چې پيدا شي بلکه د هغه د پيدا کيدو نه مخکښې د هغه د روښانه مستقبل فِکرونه شروع کړو ✿ چې زمونړه بچے محتاجه نه شي ✿ هغه ته د څه خيز کمے رانشي ✿ لوئے سړے جوړ شي ✿ نورو ته لاس اونه نيسي ✿ د دې د پاره منصوبے جوړوو، د اولاد پيدا کيدو نه وروستو انسان د مخکښې نه د زياتې ګټې کوشش شروع کړي. ښه خبره ده، د اولاد د پاره فِکر مند کيدل پکار دي خو د بزرګانو انداز ته اوګورئ څومره ښکلے انداز دے...! د دې مقصد دپاره چې الله پاک ئې د بچي حفاظت اوفرمائي، بچے ئې د آفتونو، بلاګانو، مصيبتونو، غريبۍ، محتاجۍ وغيره نه محفوظ پاتې شي، د دې مقصد د پاره به حضرت سعيد بن مُسَيّب رحمة الله عليه زيات لمونځونه ادا کول. سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان ئې لرلو...!!

---

1... تفسیر صراط الجنان، پارہ:16، سورۂ کہف، زیرِ آیت:82، جلد:6، صفحہ:25۔
2... تفسیرِ خازن، پارہ:16، سورۂ کہف، زیرِ آیت:82، جلد:3، صفحہ:174۔
3... مجموع رسائل ابن رجب، جلد:3، صفحہ:100۔

**الله** پاک دې مونږ ته هم توفیق رانصیب کړي. ❁ **الله** پاک که درته د اولاد نعمت درکړې، نو پکار ده چې 2 رکعته نفلونه زیات ادا کول شروع کړئ ❁ صدقه به مو مخکښې کوله، اوس د صدقې رقم زیات کړئ ❁ د 1 سیپارې تلاوت به مو کولو، اوس 2 سیپارې تلاوت کوئ ❁ د بچي د پاره څه نیکۍ شروع کړئ د پاره د دې چې په دې دُنیا کښې هم **الله** پاک زمونږ د اولاد حفاظت اوفرمائي، زمونږه اولاد زمونږ په حق کښې نیک جوړ کړي او په آخرت کښې ئې هم کامیاب کړي.

| | |
|---|---|
| عمل کا ہو جذبہ عطا یاالٰہی! | گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی! |
| میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت | ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی! |
| میں پڑھتا رہوں سنّتیں، وقت ہی پر | ہوں سارے نوافل ادا یاالٰہی![1] |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د فِتنو نه ډک دې دَور کښې د **نیکو اعمالو** پابند جوړولو د پاره ډیره ښکلې او نایابه نُسخه عطا کړې ده، د اسلامي ورونړو د پاره: 72 نیک اعمال. د اسلامي خوئیندو د پاره 63، د طالب علمانو د پاره 92 نیک اعمال. راځئ چې په دې نیکو اعمالو کښې د یو څو دنیائي فائدے واورو:

## د ښه نیت درې دُنیائي فائدے

په 72 **نیکو اعمالو** کښې وړومبے نیک عمل دے: آیا نن تاسو څه نا څه جائزو کارونو نه مخکښې کم نه کم یو ښه نیت کړے وو؟

د **ښه نیت** د آخرت په لحاظ سره ډیرې فائدے دي، په دنیائي لحاظ سره هم د دې ډیرې

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:102۔

فائدے دي.

## (1): مثبت سوچ ميلاويږي

د **جديد سائيکالوجي** (د نفسياتو د عِلم) مطابق د دُنيا په هر يو کار کښې د کاميابۍ، ترقۍ او عُرُوج د پاره چې په يو انسان کښې کوم صفتونه ضروري دي، په هغې کښې يو اهم او بنيادي صفت دا دے چې بنده د **مثبت سوچ** مالک وي. منفي سوچ لرونکے اَوَّل خو دَ سره کاميابيږي نه، که چرې هغه ته کاميابي ميلاو هم شي نو هغه خپله کاميابي برقراره نشي ساتلے. ځکه **مثبت سوچ** کيدل په دُنيا کښې د کاميابۍ د پاره بنيادي شرط دے.

د **ښه نيت** يوه ډيره اهمه فائده دا ده چې د ښو نيتونو په برکت سره مثبت سوچ نصيب کيږي. ښه نيت په اَصل کښې څه ته وائي؟ ښه نيت د هر يو کار سره مثبت تړون ته وائي. مونږه د هر يو کار کولو نه مخکښې د هغې ښه اړخ لټوو، بيا هغه ښه اړخ په ذهن کښې راولو او هغه ښه اړخ خپل مقصد جوړوو او بيا څه کار کوو. دا مثبت سوچ دے.

د مثال په طور يو ماشوم دے، هغه B.A/M.A/Ph.D وغيره کول غواړي خو د هغه والدين هغه په درسِ نظامي (يعنې عالِم کورس) کښې داخل کړي، اوس په داسې حالت کښې عام طور ماشوم د خپلو والدينو په وړاندې د مجبوره کيدلو په وجه هغه کار خو کوي خو ذهني طور باندې باغي اوسي، وخت پاس کوي او د زړه نه پوره محنت نه کوي، که چرې هغه ماشوم يو ښه نيت اوکړي چې **زه د خپلو والدينو په فرمانبردارۍ کولو د هغوئي د خوشحالولو د پاره د الله پاک د رضا حاصلولو په نيت درسِ نظامي کووم.** دا يو ښه نيت به هغه مثبت جوړ کړي، د هغه ټول ذهن به بدل شي، او بيا به د هغه سبق ته ډېره هم لګي، شوق به ئې هم پيدا شي او هغه به د زړه نه محنت کوي نو سبق به هم اووائي او د وخت د بربادۍ نه به هم بچ شي.

# د اولاد د تربیت یو ښه نیت

دغه شان علمائے کرام فرمائي: پلار له پکار دي چې د اولاد روزنه پالنه په دې نیت سره کوي چې زما دا ځوئ یا لور به د قیامت په ورځ زما شفاعت کوي. (1)

تاسو دا نیت اوکړئ او اوګورئ! که مونږه په صحیح معنو کښې په دې ښه نیت جوړولو کښې کامیاب شو نو د دې نیت سره به مو ذهن فوراً مثبت شي، د بچي محبت مو مخکښې هم په زړه کښې دے، دې نیت سره به نور هم زیات شي، د تربیت په انداز کښې به مو زړه نرمي غواړي، د بچي په باره کښې چې مو کوم خیالونه وي، د هغه د مستقبل په باره کښې چې مو کومه منصوبه جوړه کړې ده، هغه هر څه به مثبت شي.

دغه شان د ښه نیت په برکت سره مونږه د ډیرو پریشانو نه هم بچ کیدے شو، د ښه نیت په برکت سره زمونږه معاشره د امن او سلامتیا معاشره هم جوړیدے شي، کله چې هم د یو عزیز، خپلوان یا ملګري سره ملاقات کوئ نو د هغه ملاقات د پاره هم ښه نیت کوئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! د جنګ جګړو نه به تر ډیره حده پورې بچ پاتې کیږئ.

بد قِسمتئ سره زمونږ په معاشره کښې داسې کیږي چې کله راته څوک عزیز، خپلوان د خپلې خوشحالئ په باره کښې وائي نو داسې خلق شته چې په مخ باندې ئې د خوشحالئ آثار وي، په ژبه باندې ئې مبارکي وي خو په زړه کښې ئې د حسد وور بلیږي، یا چې کله یو خپلوان د خپل غم قیصه بیان کړي نو [د اوریدونکي] په مخ باندې پریشاني او په ژبه تسلي ورکول وي خو زړه ئې د خوشحالئ نه په هوا وي چې ښه اوشول زما سره ئې په فلانکي وخت کښې داسې کړي وو، نن ښه ده چې د ده سره هم اوشو. دا انداز زمونږ په معاشره کښې شته دے.

---

1 ...حاشیہ شیخ زادہ علی تفسیرِ بیضاوی، پارہ:19، سورۂ شعراء، زیرِ آیت:88، جلد:6، صفحہ:347۔

که چرې مونږه د خپلو عزيزانو، خپلوانو سره د ميلاويدو په وخت د ښو نيتونو عادت جوړ کړو، مثلاً مونږه نيت اوکړو چې د **الله** پاک د رضا حاصلولو او د ثواب ګټلو د پاره به صِله رِحمي کووم، که چرې د هغه د اړخ نه تکليف را اورسي نو د صبر کولو په ذريعه به صله رحمي جاري ساتم.

تاسو پخپله غور اوکړئ: که چرې مونږه د خپلو وروڼو، خپلوانو وغيره سره د ميلاويدو په وخت دا نيت اوکړو، يعنې شروع نه د نيکئ او د **الله** پاک د رضا حاصلولو ذهن جوړ کړو نو آيا بيا به زمونږ ضمير دا غواړي چې مونږه د هغه په باره کښې څه منفي سوچ اوساتو، يا ورسره جګړه اوکړو، يا هغه سره په زړه کښې بُغض او حسد اوساتو، نه...! يقيناً زمونږه ضمير به دا نه غواړي.

معلومه شوه چې که چرې مونږه د ښو نيتونو عادت جوړ کړو نو د دې په برکت سره به مونږه د حسد، سوزيدو، بُغض، شُماتت [يعنې د چا په نقصان باندې د خوشحالئ ښکاره کولو]، د فضولو غمونو او پريشانو نه تر ډيره حده پورې بچ اوسو، د جنګ جګړو نه به مو هم اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! حفاظت کيږي او نتيجةً معاشره به د امن او سلامتيا والا معاشره جوړه شي.

## (2): نعمت د زحمت جوړيدو نه بچ شي

مونږ ته په دې دُنيا کښې ډيرې فائدے او کاميابئ ميلاويږي خو دا ضروري نه ده چې په سترګو ښه ښکاريدونکے هر څيز دې نعمت وي، ځکه چې دنيائي کاميابي، مال، دولت، صحت، عهده او منصب کله زحمت هُم جوړ شي. اوګورئ! فرعون بادشاه وو، آيا دا بادشاهي د هغه په حق کښې نعمت وو؟ نه...! قارُون ډير زيات مالداره وو، څومره مال چې د هغه سره وو، کيدے شي چې د هغه همره مال نن سبا په دُنيا کښې د چا سره هم نه وي خو آيا دا مال او دولت د هغه په حق کښې نعمت وو؟ نه...! بلکه دا د هغه په حق

کښې زحمت وو.
که چرې مونږه د ښو نیتونو عادت جوړ کړو نو د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! په دنیا کښې میلاویدونکې نعمتونه او کامیابۍ زمونږ. دپاره زحمت نه جوړیږي. اوګورئ! د دُنیا د پاره ګټلے شوے مال په آخرت کښې د هلاکت سبب دے، او که چرې مونږه په مال ګټلو کښې ښه نیت اوکړو نو هم دا مال به په آخرت کښې زمونږ. د نجات ذریعه جوړ شي.

## دا د اللّٰه پاک په لار کښې دے

د معجمِ صغیر روایت دے: یو ورځ سحر وختي حضور سیّدِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره تشریف فرما وو چې یو طاقتور او مضبوط بدن والا ځلمے د روزګار د پاره چرته روان وو او په دغه ځائے تیر شو، صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان چې هغه اولیدو نو اوئې وئیل: کاش! چې د ده ځواني او طاقت د اللّٰه پاک په لار کښې لګیدلے وے. په دې باندې رحمتِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: داسې مه وائې! ځکه چې که چرې هغه محنت او کوشش د دې د پاره کوي چې ځان د سوال کولو نه بچ کړي او د خلقو نه بے پروا شي نو یقیناً هغه د اللّٰه پاک په لار کښې دے او که چرې هغه د خپل ضعیف مور پلار او کمزوري اولاد د پاره محنت کوي نو هم هغه د اللّٰه پاک په لار کښې دے او که چرې هغه د فخر کولو او د زیات مال غوښتلو د پاره منډې ترړې وهي نو هغه د شیطان په لار کښې دے. (1)
اے د خوږ. نبي صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! غور اوکړئ! کار هُم هغه یو دے، هغه ګس د مال ګټلو د پاره تللو خو د هغه هم دا یو کار د رحمان لاره هم کیدے شي او د شیطان لاره هم

---

1... معجمِ صغیر، صفحه:648، حدیث:940۔

کیدے شي، فرق څه دے؟ صرف د نیت فرق دے، که چرې د بنده نیت ښه وي نو دا مال ګټل به د هغه دپاره نیکي جوړه شي، په دُنیا کښې به د دې مال نه ګټه هم تر لاسه کړي او هم دا مال به ورله په آخرت کښې د نجات ذریعه هم جوړه شي، خو که چرې د بنده نیت بد وي نو هم دا مال ګټل به د هغه دپاره زحمت جوړ شي، که په دنیا کښې ورته د دې ګټه میلاو شي او که نه، په آخرت کښې ئې د نقصان سبب ضرور جوړیدے شي.

د **اللہ** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د کوم ګس نیت چې د دُنیا د طلب وي، **اللہ** پاک به په هغه باندې د هغه کار متفرِق کړي او محتاجي به د هغه د دوارِو سترګو ترمینځه وي او هغه له به دُنیا هم دومره راځي څومره چې د هغه په قِسمت کښې لیکلې وي او د چا نیت چې په آخرت کښې د بهترئ حاصلولو وي **اللہ** پاک به د هغه په زړه کښې غِنا واچوي او د هغه د پاره به خپل حکم جمع کړي نو دُنیا به هغه له ذلیله شوې راځي.[1]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د ښو نیتونو به چې په آخرت کښې کوم انعامونه میلاویږي هغه خو به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! خامخا میلاویږي، د دې سره سره د ښه نیت دنیائي فائده دا ده چې د دې په برکت معاملات ټیک کیږي، زړه ته بے نیازي نصیب کیږي او د دُنیا ګټه هم نصیب کیږي.

## (3): چې ښکلې نیت هم هغه شان مُراد

خورِو او محترمو اسلامي ورونړو! د ښو ښو نیتونو والا نیک عمل یوه دُنیائي فائده عرض کووم: مشهور متل دے: **چې ښکلې نیت، هغسې مُراد.**

د ښه نیت یوه دُنیائي فائده دا هم ده چې د ښه نیت په برکت سره که **اللہ** پاک اوغواړي نو

---

[1]...ابنِ ماجہ، کتاب الزہد، باب الہم بالدنیا، صفحہ:668، حدیث:4105۔

مُراد هُم پوره کيږي بلکه په بهتر طور باندې پوره کيږي. خو که چرې په نيتونو کښې خرابي راشي نو که مُرادونه مو پوره شي او که نه، البته نقصان مو خامخا کيږي.

## د ګني يخ خوږ رَس

شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خپل کتاب ''**نیکی کی دعوت**'' کښې د ښه نيت برکتونه بيانوي او ليکي: يوه ورځ د اِيران د کِسریٰ يو بادشاه د خپل لښکر نه ورَک شو او د يو باغ دروازے ته اورسيدو، هغه د ښځو د پاره اوبه اوغوښتلې نو يوې ماشومې **د ګني خوږ او يَخ شربت** راوړو. بادشاه چې اوڅښلو نو ډير خوندَور وو، هغه د ماشومې نه تپوس اوکړو چې ته دا څنګه جوړوې؟ هغې اُووئيل چې په دې باغ کښې د ډير ښه قِسم ګنو فصل کيږي، مونږه په خپلو لاسو ګني نچوړوو او شربت ترينه اوباسو! بادشاه ورته د يو بل ګِلاس فرمائِش اوکړو، په دې دوران کښې د بادشاه **نِيَّت خراب** شو او هغه د ځان سره دا فيصله اوکړه چې زه به دا باغ د دوئي نه په زور واخلم او بل باغ به دوئي له ورکړم. په دې کښې هغه ماشومه په ژړا راغله او اوئې وئيل چې: زمونږه د بادشاه **نِيَّت** خراب شوے دے. بادشاه اُووئيل: دا تا ته څنګه معلومه شوه؟ هغې اُووئيل: مخکښې به په اسانئ سره ګنے نچوړيدو او اوس مې ترينه د ډير زور لګولو باوجود هُم رَس را اُونه وِيستے شو.'' بادشاه فوراً په زور د باغ اغستو بد **نِيَّت** ختم کړو او اُوئې وئيل: يو ځل بيا لاړه شه او کوشش اوکړه، چنانچه هغه لاړه او په اسانئ ئې ترينه شربت نچوړ کړو او را ئې وړلو. (1)

اَللّٰهُ اَکْبَر! غور اوکړئ! نيت څومره اثر لري، که چرې مونږه ښه نيت اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! زمونږه نيتونه به په ښه طور پوره کيږي. **اللّٰه** پاک دې مونږ له د هر نيک او جائز

1... حیاۃ الحیوان الکبریٰ، جلد:1، صفحہ:216۔

کار نه مخکښې د ښو ښو نيتونو کولو توفيق راکړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم .

## د لـمونځ دنيائي فائدے

په 72 نيکو اعمالو کښې دويم نيک عمل دے: **آيا نن تاسو پينځه واړه لـمونځونه د جَمعې سره ادا کړل؟**

لـمونځ خو د دُنيا او آخِرت د کاميابيانو کُنجي ده. د لـمونځ کولو چې کومې د آخِرت فائدے دي، هغه خو هسې هم دي، دُنيائي فائدے ئې هم دومره ډيرې دي چې د شمير نه بهر دي.

## (1): د لـمونځ معاشرتي فائدے

✿ لـمونځ يو شُکر دے او د شُکر په برکت سره نعمتونه زياتيږي ✿ لـمونځ په هر مسلمان باندې فرض دے، څوک چې په پابندئ سره د پينځه وخته لـمونځونو عادت جوړ کړي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! فرض شناس [يعنې د خپلې ذِمّه دارئ احساس لرونکے] به جوړ شي ✿ د بے پرواهئ ✿ سستئ ✿ او آرام خوښولو د آفت نه به په بچ کيدو کښې کامياب شي ✿ د جديد سائيکالوجي (د نفسياتو د عِلم) مطابق په هر يو کار کښې د کاميابئ د پاره د ارادے مضبوط طاقت ډير ضروري دے، د چا چې د ارادے طاقت مضبوط نه وي، د هغه حال داسې وي چې

ارادے باندھتا ہوں، سوچتا ہوں، توڑ دیتا ہوں | کہیں ایسا نہ ہو جائے، کہیں ویسا نہ ہو جائے

يعنې د چا د ارادے قوّت چې مضبوط نه وي، هغه حتمي او مستحکم نه پاتې کيږي، ځکه د ارادے طاقت د کاميابئ بنيادي شرط ګرځولے شي، د لـمونځ دا يوه بهترينه دُنيائي فائده ده چې د دې نيک عمل په برکت سره د ارادے طاقت ډير زيات

مضبوطيږي ❁ او د لـمونځ يوه ډېره زياته اهمه فائده دا ده چې لـمونځ يوه حفاظتي قلعه ده، دواياني په 2 قِسمه وي، يوه ساده دوائي کومه چې د بيمار بيماري ختموي او يو ويکسين وي، دا بيماري هم ختموي، ورسره ورسره بيا د پاره د هغه بيمارئ د لګېدو نه حفاظت هم کوي، لـمونځ هم لکه چې يو روحاني ويکسين دے، **اللّٰه** پاک فرمائي:

| | | |
|---|---|---|
| اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ (پاره:21، سورۂ عنکبوت:45) | | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالایمان : بے شکه لـمونځ منع کوي د بے حيائې او بدې خبرې نه. |

دا د لـمونځ د ټولو نه اهمه فائده ده چې لـمونځ زمونږه منفي سوچ، منفي کردار، منفي اخلاق مثبت جوړوي او ورسره ورسره زمونږه افعال او کردار، اخلاق، عادتونه، خبرې اترې وغيره بيا د منفي جوړيدو نه هم بچ ساتي.

## لـمونځ د اِصلاح سبب دے

يو ځل يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! فلانکے کَس لـمونځ هم کوي او غلا هم کوي. د **اللّٰه** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: هغه پرېږدئ! د هغه لـمونځ به هغه د غلا نه منع کړي. **(1)**

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د لـمونځ **6** شرطونه، **7** فرائض، **30** واجبات، **92** سُنت او ډېر باطني آداب دي، که چرې مونږه د دې ټولو د خيال ساتلو سره لـمونځ ادا کوو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! لـمونځ به زمونږه اخلاق او کردار ښکلي، مثبت او زړه راښکونکي جوړ کړي. **اللّٰه** پاک دې مونږ له د پينځه واړه لـمونځونو په پابندئ سره په

---

[1]...مسندِ امام احمد، جلد:4، صفحہ:658، حدیث:10030۔

جُمات کښې د تکبیرِ اُولیٰ سره د ادا کولو توفيق را کړي.

## (2): د لـمونځ طِبّي فائدے

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** په طِبّي لحاظ سره هم د لـمونځ ډير برکتونه دي. د لـمونځ په برکت سره بنده د دماغي، اعصابي او نفسياتي مرضونو او هم دا رنګه د جوړونو د درد، د معدے د زخم، شوګر، فالج، بلډ پريشر، د ستړګو او د مرئ د مرضونو نه هم بچ کيږي. په صحيح طريقه لـمونځ ادا کول د کوليسټرول د مقدار نارمل ساتلو يوه مستقل او متوازِن ذريعه ده. د لـمونځ په حالت کښې په قيام [اودريدلو] کښې د ملا تير ته سکون ميلاويږي او د رُکوع کولو سره د ملا د درد نه نجات ميلاويږي. د ګيډې د پټو، د معدے او د کولـمو نظام بهتر کيږي او د کاني جوړيدو عمل سست شي. لـمونځ سره د زنګونانو او د څنګلو جوړونه مضبوطيږي. لـمونځ د څټ او د اُوګو د پټو د پاره بهترين ورزش دے.

## د يو څو نورو نيکو اعمالو دُنيائي فائدے

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** دغه شان په 72 نيکو اعمالو کښې چې باقي پاتې کوم نيک اعمال دي د هغې هم ډيرې فائدے او برکتونه دي، مثلاً ۞ **21 نمبر نيک عمل دے: آيا نن تا د سحر د لـمونځ د پاره [څوک] راپاڅولي وو؟** په دې نيک کار باندې د عمل کولو په برکت سره سحر وختي د پيدل ګرځيدو موقع ميلاويږي، د دې په برکت صحت ښه اوسي ❁ پيدل ګرځيدل د مختلفو بيمارو (مثلًا د زړه د دورے، فالج، ګوزن، دماغي مرضونو، د ښپو او بدن د درد، د ژبې او مرئ د بيمارو، په خُله کښې د پوښاقو راختو، د سينې او د ګُردو د مرضونو، د معدے د سوزيدو، شوګر، هائي بلډ پريشر، د ځيګر او تريخي د بيمارو

وغيره) نه حفاظت ورکوي ❁ دې سره وزن کښې اعتدال پيدا کيږي ❁ هډوکي ورسره مضبوطيږي او ❁ ټول اندامونه په بهتر طور باندې کار کوي.[1]

۞ د **25 نمبر نيک عمل مطابق د سپينو جامو اغوستلو** په برکت سره په ګرمئ کښې کمے راځي.[2] ❁ په امريکه کښې د انساني صحت په باره کښې د شوي يو تحقيق مطابق جامې د کِيتو نه بره ساتلو سره په کِيتو کښې د پړسوب، د ځيګر په دننه حصه کښې د پړسوب او ليونتوب نه حفاظت کيږي دغسې د کالر نه بغير قميص اچولو سره د دماغو او سترګو کمزورې، بے خوبي، د ويښتو پريوتل، ګنجي توب او ليونتوب نه حفاظت کيږي. ځکه چې دماغو ته وينه د دماغو د رګونو په ذريعه راځي او د کالر سره په دې رګونو کښې د دباؤ زياتيدو په وجه د وينې په چلن کښې کمے واقع کيږي.

ان کی سنّت کا جو آئنہ دار ہے | بس وُہی تو جہاں میں سمجھدار ہے[3]

۞ د **27 نمبر نيک عمل مطابق د ګيرې پريښودو** په برکت سره د فولي کليټس بارېي نومي بيمارئ نه حفاظت کيږي، د دې بيمارئ خطره د ګيرې خريلو په وخت د ځرمنې زخمي کيدو سره زياتيږي. چې په مخ باندې مو سُنَّتِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وي [يعنې د سُنّت مطابق ګيره مو پريښودې وي] نو دا بيمارې به خوا له هم نه درځي اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! . د دې په وجه د الرجي نه هُم حفاظت کيږي ځکه چې د ګيرې او بريتو ويښته دوړه وغيره خپل طرف ته راکاږي دغه شان هغه پوزې او خُلې ته نشي تلے. د مخ ويښته ځرمن د نمر د الټرا وائلټ شعاګانو نه بچ کول کوي او د ځرمنې د کينسر نه د 90 نه تر 95 فيصده پورې تحفظ ورکوي او د ساه لنډي د جراثيمو نه د پهيپړو [پړپوس] حفاظت کوي.

---

1...صدائے مدینہ، صفحہ:17،16 بتصرف۔

2...گرمی سے حفاظت کے مدنی پھول، صفحہ:10 ماخوذًا۔

3...وسائلِ بخشش، صفحہ:472۔

سبھی رُخ پہ اک مُشت داڑھی سجائیں | بنیں عاشِقِ مصطفٰے یاالٰہی ![1]

۞ **د 31 نمبر نيک عمل مطابق د مِسواک د عادت جوړولو هم ډېر برکتونه دي.** د سائنسي تحقيق مطابق د مسواک ريشې بيکټيريا ته لګيدو نه بغير هغه براهِ راست ختموي او غاښونه د ډيرو بيمارو نه بچ کوي. دا د غاښونو او د خُلې د صفائي او د ورو د صحت بهترينه ذريعه ده. په امريکه کښې د غاښونو په حقله په شوې يوه ناسته کښې اووئيلے شو چې په مِسواک کښې داسې مادے وي چې هغه غاښونه د کمزورئ نه بچ کوي او هغه ټولې دواياني کومې چې د غاښونو په صفائي کښې استعماليږي، د هغه ټولو نه زيات فائده مند مِسواک دے.[2] د مِسواک سره حافظه مضبوطيږي، د سر درد ورسره ختميږي او د سر رګونو ته ورسره سُکون ميلاويږي. د دې نه علاوه نظر ورسره تيزيږي، معده ورسره صحيح کيږي او خوراک ورسره هضميږي، عقل ورسره زياتيږي، د بچو په پيدائش کښې ورسره زياتوالے راځي، بوډا توب زر نه راځي او ملا ورسره مضبوطيږي.[3]

۞ **د 33 نمبر نيک عمل مطابق د تهجدو د لمونځ ادا کولو په برکت سره** بوډا توب زر نه راځي او مخ نوراني کيږي.

۞ **د 38 نمبر نيک عمل مطابق د رښتياؤ وئيلو په برکت سره جسماني او دِماغي صحت بهتر کيږي**، په يو ريورټ کښې وئيلے شوي دي چې دروغ وئيل د انسان صحت متاثره کوي او د بے خوبئ او د معدے د زخم سبب جوړيږي. هم دا رنګه دروغ ويونکي د حقيقت پټولو په وجه په نفسياتي دباؤ (*Depression*) کښې اخته کيږي. لِهٰذا د رښتياؤ وئيلو سره د دې ټولو آفتونو نه بچ کيدے شي.

---

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:104۔
2...مسواک شریف کے فضائل، صفحہ:7بتصرف۔
3...نماز کے احکام، صفحہ:72۔

حسد، وعدہ خِلافی، جھوٹ، چُغلی، غیبت و تہمت مجھے ان سب گناہوں سے ہو نفرت یا رسولَ اللہ [1]

۞ **د 55 نمبر نیک عمل مطابق عمامه شریف په سر کول** د سر د درد د پاره ډیره فائده منده ده. دې سره دماغو ته طاقت میلاویږي او حافظه ورسره مضبوطیږي. د دې په سر کولو سره دائمي نزله نه کیږي، که چرې وي هم نو اثرات ئې کم وي. د عمامه شریف شمله حرام مغز د موسم د اثراتو مثلاً د یخنۍ او ګرمۍ وغیره نه حفاظت کوي او د دماغو د پړسوب د مرض په اندیښنو کښې کمے راولي. [2]

لباس اپنا سنّت سے آراستہ ہو | عمامہ ہو سر پر سجا یاالٰہی! [3]

۞ **د 62 نمبر نیک عمل مطابق د هر ګل شریف (یا بیا د پاتې کیدو په صورت کښې په هره یوه ورځ) روژه نیول** د معدے په تکلیفونو او بیمارو کښې فائده منده ده ځکه چې د روژې نیولو سره د هاضمې نظام بهتر کیږي، شوګر لیول، کولیسټرول او بلډ پریشر کښې ورسره اِعتدال پیدا کیږي، نور دا چې د زړه د دورې خطره نه پاتې کیږي ځکه چې د روژې په حالت کښې زړه ته ډیر فائده مند آرام رسي. روژې سره د پټو راښکل، ذهني دباؤ، خفګان او نفسیاتي مرضونه ختمیږي، د وجود غټ والے کموي او اضافي غوړ ختموي. د روژې نیولو سره د بے اولاده زنانؤ د اولاد نصیب کیدو امکان څو چنده زیاتیږي. [4]

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: نیک اَعمَال

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا په مختصر طور باندې د نیکو اعمالو دنیائي فائدے

1...وسائلِ بخشش، صفحہ:332۔
2...163 مدنی پھول، صفحہ:27۔
3...وسائلِ بخشش، صفحہ:104۔
4...تفسیر صراط الجنان، پارہ:2، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:184، جلد:1، صفحہ:293 بتصرف۔

بیان شوې، ګنې د نیکو اعمالو برکتونه که شمیرل شروع کړو نو مونږ به ئې شمیر نکړے شو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د نیکو اعمالو اختیارولو په دنیا کښې هم بے شمیره برکتونه دي او په آخِرت کښې ئې هم بے شمیره برکتونه دي. ځکه عملي طور د نیکو اعمالو اختیارولو نیت اوکړئ!

راځئ چې د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے واورو:

## د ټولې کورنئ اصلاح اوشوه

د ضلع اټک (پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور بیان دے، ما د ګناهونو نه ډک ژوند تیرولو، فلمونه کتل، لوفري کول، لـمونځونه قضا کول وغیره زما په معمولاتو کښې شامل وو، یو ځل زمونږه علاقے ته د عاشقانِ رسول یوه مدني قافله راغله، په هغوئي کښې یو اسلامي ورور ماته د مانبام د لـمونځ کولو او بیان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې زه د هغوئي سره جُمات ته لاړم، د مانبام د لـمانځه نه پس بیان ما له ډیره مزه راکړه، د بیان په آخره کښې مبلغ د **نیک اعمال** رسالے تعارُف اوکړو، په رساله **نیک اعمال** کښې درج د نیکو نه ډک ژوند تیرولو مدني ګلونه لیدو سره زه ډیر خوشحاله شوم، د دې رسالے په صورت کښې چې ما د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د اُمَّت د اصلاح د پاره درد اولیدو نو ما سمدستي د بیعت کولو د پاره نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د وخت د ولئ کامل سره د نسبت جوړیدو په برکت د ګناهونو نه بیزاره شوم او د نیکو طرفته مائل شوم، د ګناهونو نه مې توبه کړه او د دعوتِ اسلامي دیني ماحول کښې د زړه نه شامل شوم، د دې په برکت سره زما په اخلاقو هم ښه اثر اوشو، زما د دې تبدیلئ په کور والؤ باندې هُم ښه اثر اوشو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په مزه مزه ټوله کورنئ قادري، رَضَوي، عطّاري جوړه شوه، په کور کښې د لـمونځو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامے او سندرې باجې بندې شوې او د ګناهونو نه ډکو

چینلو په ځائے مدني چینل اولګیدو. [1]

| | |
|---|---|
| خوب مدنی قافلوں کی دھوم ہو | نیک ہو امّت اے نانائے حسین |
| "مدنی اِنعامات" کی ہو ریل پیل | نیک ہو امّت اے نانائے حسین[2] |

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دعوتِ اسلامي په دیني ماحول کښې مدني انعامات ته اوس نیک اَعمَال وئیلے شي.

## نیک اعمال (Naik Amal) موبائل ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نیک جوړیدو او د نیکو اعمالو زیاتولو د پاره د دعوتِ اسلامي *I.T* ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے دے، چې نوم ئې **نیک اعمال** (*Naik Amal*) دے. دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، په دې ایپلي کیشن کښې: د اسلامي ورونړو، اسلامي خوئیندو او طالب علمانو د پاره بیله، بیله رِساله موجوده ده ❀ دا په 6 مختلفو ژبو ❀ انګلش ❀ اُردو ❀ هندئ ❀ بنګالئ ❀ ګجراتئ او ❀ سندهئ کښې استعمالیدے شي ❀ په دې کښې په مختلفو نیکو اعمالو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي ❀ د هر سوال نه لاندې 30 خانے دي، هره ورځ د خپلې خوښې څه وخت مقرر کړئ او د خپلو اعمالو جائزه اخلئ، د دې مطابق ژوند تیروئ، اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! د دې په برکت به مو د ګناهونو نه د بچ کیدو او د نیکو کولو ذهن جوړیږي، د زړه صفائي به مو نصیب شي او کردار به مو صفا ستهرا، ښکلے شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان په آخره کښې د سُنّتو د فضیلت او د ژوند د

---

[1]...دلوں کا چین، صفحہ:4۔
[2]...وسائل بخشش، صفحہ:258۔

ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰه عَلَيهِ واٰلهٖ وسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي. (1)

سينہ تيری سُنّت کا مدينہ بنے آقا! | جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## شُکر ادا کول سُنَّت عمل دے

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰه عَلَيهِ واٰلهٖ وسَلَّم **2 فرامين: (1):** د بنده په هره نوَړئ او هر ګوټ باندې د **الله** کريم شُکر ادا کول **الله** پاک ته خوښ دي. (2) **(2):** په خپلو ژبو ذِکر جاري ساتئ او په زړه کښې شُکر کول جاري ساتئ!. (3)

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰه عَلَيهِ واٰلهٖ وسَلَّم **عاشقانو!** شُکر ادا کول سُنَّت دي. ❁ د **الله** پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰه عَلَيهِ واٰلهٖ وسَلَّم به ډير زيات شُکر ادا کولو ❁ هغوئ صَلَّی اللّٰه عَلَيهِ واٰلهٖ وسَلَّم کله هُم ناشُکري نه ده کړې ❁ شُکر اعلیٰ عبادت دے ❁ د شُکر اد کولو سره نعمت زياتيږي ❁ بنده ته چې نعمت ميلاو شي، او بنده شُکر ادا کړي، د دې په برکت به اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! بنده د عذاب نه محفوظه اوسي. (4)

**د شُکر ادا کولو طريقه:** ❁ حضرت ابو بکر شبلي رَحمَةُ اللّٰه عَلَيه فرمائي: نعمت ته د کتلو په ځائے، په نعمت ورکوونکي [يعني په **الله** پاک] باندې نظر ساتل شُکر دے. (5) مثلاً

---

[1]...تاريخِ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔
[2]...مُسلم، کتابُ الذِّکر والدُّعا، صفحه:1122، حديث:6932۔
[3]...شُعَبُ الْاِيمان، باب: محبةُ اللّٰه، جلد:1، صفحه:419، حديث:590، ملتقطاً۔
[4]...صِرَاطُ الجنان، جلد:4، صفحه:406، خُلاصة۔
[5]...اِحياءُ العلوم، کتابُ الصبر والشکر، جلد:4، صفحه:103، خلاصة۔

تاسو ته تنخوا ميلاو شوه، دا هم نعمت دے، په امتحان کښې پاس شوئ، ځوئ يا لور مو اوشوه، د لمونځ کولو توفيق درنصيب شو، د روژے نيولو سعادت درنصيب شو، د صدقے ورکولو سعادت درنصيب شو وغيره، که هر څه نعمت هم درنصيب شو نو هغه نعمت ته مه ګورئ بلکه سوچ اوکړئ چې دا نعمت **الله** پاک راعطا کړے، د نعمت نسبت ځان طرف ته نه، د **الله** پاک طرف ته کوئ ❀ امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د نعمت په ميلاويدو د نيکئ اراده کول **د زړه شُکر** دے. په ژبه باندې د **الله** پاک **حمد** او ثناء کول **د ژبې شُکر** دے. د **الله** پاک راکړے نعمت په عِبَادت کښې لګول، دا په ګناه کښې د استعمالولو نه بچ کول **د نورو اندامونو** شُکر دے. (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د **مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنه** د **بهارِ شريعت** د جلد: 3 نه شپاړسمه حصه اولولئ او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي په قافلو کښې عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

الفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نَم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو

**الله** پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

1...اِحْيَاءُ العلوم، کتابُ الصّبر والشکر، جلد:4، صفحہ:103، خلاصۃً۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

---

1 . . . افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

ځوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بیرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿4﴾د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللہ عنہم حیران شو چې دا ځوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: خوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰه عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

2...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

3...تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵